**بسم الله الرحمن الرحيم**

## د اوکراین جګړه د بیاځلي راشده خلافت زیری راتازه کوي

**خبر:**

د ۲۰۲۲م، د فبروري په څلور ویشتمه نېټه، روسانو عملاً د اوکراین پر خاوره پوځي برید وکړ او تراوسه پورې دوام لري. یاده کشاله په ۲۰۱۴م کال کې د کیف ښار په واک باندې رامنځ ته شوه؛ چې تر هغې مخکې یې واک له روس پوله رهبر سره و. خو کله چې روس پلوه واکمن ګوښه او پرځای یې غرب پلوه رهبر واک لاسته راوړ؛ له روسانو سره یې اړیکې کړکېچنې شوې، چې په پایله کې یې د اوکراین جګړه رامنځ ته شوه.

**تبصره:**

د بېلابېلو ملتونو پر وړاندې وروستۍ جګړې د تش په نامه نړیوال قدرت (امریکا) دوه مخی سیاست بربنډوي، چې څنګه یې د سوري انقلاب مخه ډب کړه او د اوباما په وخت کې یې سوري مسلمانان د روسیې په وژونکي ماشین له منځه یووړل، د ټرمپ اداري اروپایي هېوادونو(ناټو) ته ګواښ وکړ، چې د روسیې د ګواښونو پر وړاندې د دوی (ناټو) د ساتنې لپاره به خپلې مالي مرستې دوه برابره کړي، بایډن د اروپایي بې ثباتۍ لپاره روسیه پر اوکراین پوځي برید ته ولمسوله، اروپا یې د نا امنۍ اور ته ورداخله کړه او له برید وروسته یې په روسانو هم بندیزونه ولګول؛ یعنې امریکا له شپنو سره تندی وهي او له لېوانو سره څنګ په څنګ وزې خوري.

دا چې روسیه د واکمن نړیوال لوبغاړي مخینه لري؛ په ۱۹۹۱م، کې د متحده آیالاتو د نیابتي جګړې څخه مخکې د سوسیال شوروي جمهوریتونو (USSR) سرلارې وه؛ اوس په ډېره سادګۍ د امریکایي پلانونو ښکار ګرځي، چې د روسیې هېواد لپاره به ښې پایلې ونه لري. که روسیه غواړي چې د امریکایي دامونو ښکار ونه ګرځي، دوی باید د امریکا پر وړاندې له چین سره یو ځای د امریکایي اقتصاد مخه ډب کړي.

د پورتنیو ادعاوو پر بنسټ امریکا په ښکاره توګه په فریبناکو سیاسي چلونو بوخته ده، سربېره پر دې ټول سیکولر پانګوال ملتونه د خپلو ګټو او دلچسپیو په معیارونو باندې راټولوي، دا د حیرانتیا خبره نه ده چې روسیه په اوکرین او امریکا په عراق او نورو هېوادونو باندې بریدونه کوي. د هر هېواد لپاره چې کومه پلمه مناسبه وبولي، یوه توجیه ورته پیداکوي او سملاسي پرې برید کوي. په یقیني ډول امریکایي لاسونه په اوکرایني وینو سره دي، ځکه چې امریکا په ټولو جګړو کې د ماسټرپلان جوړونکې او له روسیې سره په جرم کې شریکه ده. د نړیوالو بحرانونو د رامنځ ته کېدو ستر لامل موجوده حاکمه پانګواله اېډیولوژي ده، چې د انسانیت په ژغورلو کې ناکامه شوې ده، موږ په ښکاره ډول د دوی هغه دروغجن انسان دوستانه شعارونه، چې وایي موږ امن غوښتونکي خلک یو، په خپلو سترګو وینو، چې تر اوسه پورې یې په سومالیا، کشمیر، سوریه، لیبیا، سینکیانګ، ازبکستان او افغانستان کې د جګړې اور ته په یوه او بل نامه لمن وهلې. راځئ له بل هر وخت د دې فرصت رانږدې شوی چې د کفر له ځنځیرونو څخه د اسلام رڼا ته بشریت راوباسو او د نبوت په طریقه بیاځلي خلافت تاسیس کړو. همدا خلافت به د داسې سلامتیا تضمینوونکی وي، چې د سلامتیا ترڅنګ به موجوده پانګوال مرضونه هم په اوبو لاهو کړي، هغه مرضونه چې د فاسدې پانګوالي مفکورې په تطبیق سره رامنځ ته شوي او په حل کې یې پانګوالي پاتې راغلي. همدا خلافت به د منابعو په عادلانه وېش کې خپله پالیسي داسې پلې کړي، چې د محدود شمېر کسانو له منګولو به پانګه آزاده او په عادلانه ډول به یې د ټولنې د افرادو ترمنځ وویشي، په دې توګه به د هغه بحرانونو، چې په کېنیا او نوره نړۍ کې لیدل کېږي، پای وټومي.

د خلافت په نه شتون کې سرچینې لوټېږي او د ټولنې د افرادو په منځ کې په عادلانه ډول نه ویشل کېږي، پانګه د محدود شمېر کسانو لاس ته لوېږي، حتي تر دې پورې چې له یوې وژونکې ناروغۍ څخه هم ګټه پورته کېږي، چې له خلکو څخه کفن وباسي او خپله خېټه پرې اچوي؛ لکه څنګه چې د کوېډ ۱۹ په منځته راتلو سره موږ او تاسو د داسې پېښو شاهدان وو. د خلافت په نه شتون کې موږ د بدبختۍ ۱۰۱ کلن انځوریز البوم لرو، چې څه ډول نړۍ له کړاوونو سره لاس او ګرېوان ده؛ نو اې مسلمانانو! راپورته شئ! نن ورځ د خلافت د تاسیس لپاره تر ټولو غوره فرصت محیا شوی دی، اقدام وکړئ او د الله سبحانه و تعالی پر وړاندې خپله ذمه واري خلاصه کړئ! د الله امر ته لبیک ووایئ، چې الله تعالی ستاسو مرسته وکړي.

**{يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا ٱسْتَجِيبُوا لِلَّهِ وَلِلرَّسُولِ إِذَا دَعَاكُمْ لِمَا يُحْيِيكُمْ ۖ وَٱعْلَمُوٓا أَنَّ ٱللَّهَ يَحُولُ بَيْنَ ٱلْمَرْءِ وَقَلْبِهِۦ وَأَنَّهُۥٓ إِلَيْهِ تُحْشَرُونَ}**[الأنفال: ۲۴]

*__ژباړه:__ اې ایمان راوړونکو! د الله او د هغه د پیغمبر بلنې ته لبیك ووایئ، چې کله پیغمبر تاسو ته د هغه شي پر لور بلنه درکړي، چې تاسې ته ژوند ښښونکی دی، وپوهېږئ چې الله د انسان او د هغه د زړه تر منځ حایل دی او د هماغه لوري ته به تاسو ورغونډ کړای شئ.*

**د حزب التحریر مرکزي مطبوعاتي دفتر**
**لیکنه: عالي نسرو "عالي"**
**ژباړه: حمزه "صدیقي"**